مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۴/۱۰/۱۴

# ډالۍ

تا راتول پاشلی قام کړ، با تدبیره
عجیبه شان کرامت لرې، ځوان پیره

نه د زر او نه د زور په آس را سپور یې
خو لښکرې در پسې دروميې فقیره

تا د قام ارام ته خپل خوب حرام کړی
سرې سرې سترګې دې کیسې کړې له شوګیره

دا زاړه ساحران ټول درته حیران دي
ستا شهرت شو په ځوانی کې عالمګیره

دا د زړونو محبت اسانه، نه دی
دا چې تا ګټلی یې په زړه زهیره

تا د قام رضا کړه پیش خپله دې پس کړه(*)
درویشي دې کړه عجیبه ښه تفسیره

سپیڅلتیا دې له الفاظو را ښځیږي
مړاوي زړونه شي تازه ستا له تقریره

قیادت دې په عجیب انداز تمثیل کړ
خدای خبر، که یې ښوک نور شي دعوه ګیره

تا د ویني د ارزښت خبره وکړه
لاله زار شوه، د خیبر ځمکه فقیره

زولنې دې له هیبت ځنې خوځیږي
شرنګا اورمه له هر یو مات زنځیره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ګوره پام چې په هیڅ دام کې را ګیر نشې
ګوره پام چې څوک دې نه کا غافلګیره

ګوره پام خپله قبله غلطه نکړې
ګوره پام قدم کوږ کینږدې ای پیره

تر هغې چې د مظلومو ترجمان یې
(نعمان) وایي خدای دې هیڅ مکړه دلګیره

نعمان دوست
۲۱ /تله/ ۱۴۰۳

----------------
دې بیت ته اشاره ده:

"درویشي، دا هسې چیرې شي درویشه؟
چې د نورو رضا پس کړې، خپله پیشه"


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ